# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

| www.afgazad.com | afgazad@gmail.com |
|---|---|
| Political | سیاسی |



د زیار خپرونه- سیدهاشم

۲۷ جنوری ۲۰۲۱

## د ماشومانو خوارځواکي د ښکیلاکګری جګړې پایله ده

د کرنې او خوړو نړیوال سازمان، د ملګرو ملتونو له ماشومانو د ملاتړ اداري او نړیوال روغتیايي سازمان په یو ګډ راپور کې لیکلي دي چې د جنوبي آسیا د هیوادونو په مینځ کې د افغانستان د ماشومانو د خوارځواکي کچه دوه برابره ده. د دې راپور له مخې په هر لسو بیوزلو افغان ماشومانو کې پنځه تنه یې په شدیده خوارځواکي اخته دي.

د یونیسف دفتر د تغذیي برخې چارواکي وایي چې په راتلونکي ۱۲ میاشتو کې به یو میلیون تنه نور په شدیدې خوارځواکي اخته شي چې د تیر میلادي کال په پرتله ۳۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. دا دفتر د خوارځواکي علت د کرونا ویروس ګڼي.

افغانستان له بده مرغه د بیوزله انسانانو لپاره یو دوزخ دی، څنګه چې د شتمنو او پیسه دارانو لپاره جنت دی. د افغانستان زیارکښه او بیوزله انسانان تل له بیوزلی، تنګلاسی او فقر او ناداری سره مخ دي، سره له دې چې هیڅ څوک د دې زیارکښه انسانانو په اندازه زیار او زحمت نه ګالي. خو د زیارکښانو اوسني بیوزلي او ناداري د افغانستان په تاریخ کې بې سارې ګڼل کیږي.

نژدې شل کاله کیږي چې امریکایی ـ ناټویي ښکیلاکګران په افغانستان کې واکمن دي.دا هغه ستمګران دي چې د ماشومانو او د انسانانو د وژلو او بمبارولو تر څنګ ظاهراً د ماشومانو او د بشري حقوقو د ملاتړ چیغې او ناری هم وهي. په دې شل کلنه جګړه کې د امریکایي ـ ناټویي ښکیلاکګرو او کورني ملاتړ کوونکو تر څنګ طالبانو، داعشیانو او جهادیانو د بیوزله او زیارکښو انسانانو ژوند برباد او تباه کړی دی.

شل کلنی استعماري او خونړي جګړې، انتحار، انفجار او بمبار د دې تر څنګ چې زرګونه زیارکښان وژلي، بیوزلي او ناداري یې هم په بې سارې ډول زیاته کړه ده. د زیارکښانو ماشومان د دې ناداري او بیوزلي اصلي قربانیان دي. همدا اوس میلیونونه ماشومان په شدید فقر کې ژوند کوي او د ژوندانه لومړنیو آسانتیاوو ته لاسرسی نلري. خو بلې خوا ته شتمن او ثروتمندان د بیوزلو انسانو د حقونو په لوټلو سره افسانوي ژوند کوي. یوې خوا ته دولتي شتمن د اتلسو ډولو غوښو قرارداد کوي، بلې خوا ته هره ورځ سلګونه بیوزله انسان د پل خشتي جومات مخامخ د ودونو د سالونونو پاتی شوی هډوکي او وریجې په بیه اخلي.

د کرونا ویروس یو عمومي ویروس دی. خو دا ویروس د دې لپاره د نورو په مقایسه ډیر بیوزله انسانان ځپي چې د بیوزلي له وجې سمه تغذیه نشي لرلی. دا ویروس د دې لپاره زیارکښان ځپي چې د کار زمینه تري اخلي او د خرید

قدرت يې راټيټوي. ناروغي او مرض لکه  د نورو ناورينو په څېر تر ټولو زيات بيوزله انسانان ځپی، څکه بيوزله زيارکښان د ژوندانه له لومړنيو اسانتياوو بی برخی دي او د همدې لپاره د هر ډول ناورين لومړني قربانيان دي.

که چيرې زموږ په هيواد کې داسې  يو ملي او دموکرات دولت واکمن وی چې  د زيارکښانو اصلي مدافع وی، د زيارکښانو دوست او ملاتړ کوونکی وی او د شتمنو د ځپلو له  لارې يې د زيارکښانو حقوق خوندي کولی، نو اوس به يو افغان ماشوم هم د خوارځواکۍ قرباني نه وی. خو تر هغه چې ښکيلاک وي، ستم وي، د شتمنو او پيسه لرونکو واکمني وي، طالب او داعش او جهادي وي، هر کال به د ميليونونو ماشومانو د خوارځواکۍ شاهد ووسو، څکه دا کسان د زيارکښانو دوستان نه دي او د زيارکښانو په قرباني کولو سره خپل ثروت، قدرت او شتمنۍ ډيروي.